# تش مغزو ته

په دي سپکو مغزو وطن نشي جوړولي
طالب ،ملا پرتا سوخلک ټول اوس پوهیږ لي
دانګریزاود پنجاب په چوپړ کی ټول راښکیلي
املا مو د وطن په ورانـي ډیر کلک تړلي
دا تا سی چي افغا ن په ځا ن وژنو کي وژني
فتوا دي عمل ته مو له چا ځنی نیولي
دا کړنه د اسلام په کوم کتا ب کي لیکلي
افغان چی مو اوس ټول په تشویش کي اچولي
داوها مو په نړی کي جنتونو پسی ګرځی
پر خلکو مو ژوند بی حد توره اوتیا ره کړي
له یاده مو ایستلي چي اوس قرن دانترنیت دي
د تیکي د دوری قوانین چا اوس منلي
نور ستا سو اما رت افغا نا ن هیڅ نه مني
افغا ن ته مخ تورو مخ نور نشي سپینولي

**جرمنی** «2019-10-17»

## جامونه

جامونه د دوستي  محفلو کی نه کړنګیږي
فضا د ملګرتیا ولی هیڅ نه لید ل کیږي
ګودر کی د پیغلو سره نشته دیدونونه
دښکلو په لیچو کي بنګړي نه شرنګیږي
ملا ،طا لب ګودر اوچیني وراني کړي
د میني غوټی په زړونو نه راځیږیږي
بربرو خوشحا لی اومیه ویوړ له زړونو
په وربل دښکلو پیغلوګل نه راښکا ریږي
هرچیري ببر ږیرو غټو خیټو آمران
قانون اوقانونیت مل له سره نه چلیږي
***جرمنی 2019-09-09

## ملا اوشیخ ته

دشیخ له قصده لیری دی پلو له خپل تیر که
تنی دګریوانه دی خپل را خلاصه تراخرکه
شین خا ل د تندي دي بیا له سره تا زه که
زلفان دی په اوږو را خوري لر او بر که
حریرکمیس په تن خماری سترګي رانجه که
نخري او اداګا ني وار په وارسر په سر که
د شیخ اود ملا د تقوا دنیا وران که

دشونډوپه خندا سر ه پر«مل» لوی اختر که

***جرمنی 10-10-2019